مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۸/۲۳

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## دوه‌سوه‌پنځلسمه برخه

د ستونزو کنده یې وطنه
ملامت یار نه دی چې بل وطن ته ځینه

تر تورو غرو پناه شوې یاره
ډیوې شوې مړې، زه تیارو کې ناسته یمه

تګ دې بلا وه بل څه نه و
باور دې وشه، په ربښتیا نیمګړې شومه

د دې برخې لپاره مې دا لنډۍ راټولې کړې دي:

چې چیرې یې، خبر دې راکړه
بې غوره یاره اندېښنو لیونی کړمه

چیغې وهي، رضا یې نه ده
نامرده ورونه خور په بدو ورکوینه

سبا به لویه ننداره وي
ما به د تا په مینه دار ته خېژوینه

مسافري کولی نه شي
زه یې یادېږم، په لسمه ورځ راځینه

ستا پر څنګل باندې عادت وم
اوس د خارج پر پالنګ نه راځي خوبونه

هېڅوک د چا له غمه نه مري
شیرینه یاره چا دروغ ویلي دینه

د ستونزو کنده یې وطنه
ملامت یار نه دی چې بل وطن ته ځینه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ما خو درغواړې، ته به نه وې**
**ناري به وکړم څوک به ناوري اوازونه**

**خیر مې له ټول کلي راټول کړ**
**اوس د جانان د سترګو خیر ته ناسته یمه**

**ګلاب د یار له مخه ټول کړئ**
**ګل قند ترې جوړ کړئ، د زړه درد کراروینه**

**تر تورو غرو دې ځان پناه کړ**
**خواره خواري ده، زه یوازې پاتې یمه**

**تر تورو غرو پناه شوې یاره**
**ډیوې شوې مړې، زه تیارو کې ناسته یمه**

**د زړه په زور مې خندا وکړه**
**ګنې زه چېرې د خندا داسې موجونه**

**ته رانه لاړې، بیا رانغلې**
**بلا د واخلم په رښتیا نیمګړی یمه**

**تګ دې بلا وه بل څه نه و**
**باور دې وشه، په رښتیا نیمګړې شومه**

**جانان د ښو وختونو یار و**
**چې بده ورځ شوه، بیا یې ونکړه پوښتنه**

**یا خو پر ما باندې تیاره وي**
**یا به له ټول عالم نه لمر ورک شوی وینه**

**په تګ خو لاړې، بیا رانغلې**
**ګورم به ځانته چې ترڅو به وير کومه**

**تشو خبرو لیونی کړم**
**زه د وعدو ترڅلي کښته ولوېدمه**

**ته دې دا سپینه خولګۍ راکړه**
**بیا دې سبا ته ما پر دار وخېژوینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ